# د سهېلي پښتونخوا د پښتو موسيقۍ ارتقائي سفر: يوه تحقيقي جائزه

**A Study of the Evolution of Pashto Music in Southern Pashtoon Khwa**

سميع الله*

**Abstract:**

Music is a form of fine art and cultural activity whose medium is sound organized in time. Music has had almost its presence in all cultures of the world. Pashto – which is a centuries' old language of Indo-European family of the Aryan race – has no exception to and predominantly the art of music is an ancient heritage of Southern Pashtoonkhwa. Nevertheless, there are few specific quarters of musicians, who have been admirably contributing to preserve this waning art from the whole disappearance. Their determination and exertion in this direction has no match and has mainly been dubbed incomparable by the writers and researchers to have not only preserved this cultural gift, but has also been imparting trainings to the young generations. Their unmatched endeavors have gifted dozens of artists to the music field.Apart from musicians' role, the contribution of Quetta Radio is considered second to none in terms of its part played for the promotion of Pashto music; which has been communicating the melodious pitch, rhythm, dynamics of Pashto music. It was the miracle of radio taking Pashto folkloric music from guest houses to each nook of Pashtoonkhwa. This golden opportunity was materialized to the maximum extent and folk singers recorded their regional folk songs which has now been termed cultural asset.In this research paper, the scholar has strived to critically anaylize the evolutionary voyage of Pashto music in Southern Pashtoonkhwa.

**Key words**: Pashto, Music, Southern Pashtoonkhwa,cultural activity.

موسيقي يو داسي هنر دی چي د نړۍ د هري ژبي په کلتور کښي په څه نا څه بڼه وجود لري. په پښتني کلتور کښې هم ځانګړی ځای او شتون لري. په تېره بيا په سهېلي پښتونخوا کښې د موسيقۍ هنر له ډېره وخته موجود دی. خو د موسيقۍ دغه هنر له ورکېدو او له منځه تلو څخه ځينو کورنېوو ساتلی دی . او له ډېرو کړاوونو او ستړياوو باوجود يې دموسيقۍ هنر ته کار وکړی او نن ورځ هم کار ورته کوي. دوی په رښتيا هم پر پښتو موسيقۍ او پښتنو باندي احسان کړی دی چي موسيقي يې له منځه تلو څخه خوندي ساتلې او تر موږه يې را رسولې ده.که دوی نه وای نن به موږ د موسيقۍ له لطيف هنر څخه بې برخي وو. او زموږ د کلتور دغه برخه به نيمګړې وای. دوی په دې برخه کښې ډېر

---

*Lecturer, Department of Pashto, University of Balochistan, Quetta

ځوانان روزلي دي. او ډېر داسي اولسي سندرغاړي يې پيدا کړل چي په لومړي ځل هغوی له رېډيو د لاري بې شميره سندري و ويلې. په هغوی کښې ډېر داسي سندرغاړي سته چي له دې نړۍ ځخه يې سترګي پټي کړې دي. خو د دوی سندري نن هم د خلګو په زړونو کښې ځای لري . د سهېلي پښتونخوا هر سندرغاړي تر خپله وسه پوري د موسيقۍ هنر ته ډېر کارکړی دی. خو دلته د کوټې رېډيو هم ډېر زيات رول لوبولی دی. رېډيوکور کور ته د پښتو اولسي موسيقي ورسوله. تر دې له مخه پښتو اولسي موسيقي تر حجرو پوري محدوده وه. کله چي رېډيو خپلي خپروني پيل کړې نو د ډېرو اولسي سندرغاړو سندري يې ريکارډ کړې او بيا يې تر پښتنو پوري ورسولې. هغه وخت هم دغه يوه وسيله وه .داسي ډېر لږ کورونه به وو چي رېډيو به يې نه درلوده. کنې د هرچا په کور کښې به رېډيو موجوده وه. او د کورټولو وګړو به د رېډيو خپروني اورېدې. اوس خو يويشتمه پېړۍ ده سائنس او ټېکنالوجۍ دومره پرمخ تګ وکړی چي موسيقي يې د موبايل او کمپيوټر د لاري د هر چا لاس ته ورسوله. په دې برخه کښې ټولنيزي رسنيو لکه فېس بک،يوټيوب ، او داسي نوري دموسيقۍ په وده او پرمختګ کښې ډېر ښه رول لوبوي. چي د موسيقۍ پروګرام هر ځای شروع وي نو دا هم په هغه سعت نېغ په نېغه تر زرګونو کسانو پوري رسوي. له نن ځخه دېرش يا ځلوېښت کاله له مخه دلته په سهېلي پښتونخوا کښې دغه کارريډيو کاوه چي اولسي موسيقۍ يې کور کور ته ورسوله.د سهېلي پښتونخوا موسيقۍ هغه وخت نور پرمختګ کولای شي چي په دولتي کچه باندي ورته د زدکړې اداري جوړې شي. او ځوانانو ته د موسيقۍ هنر ورزده کړي. د موسيقۍ په هر ځه يې پوهه کړي. هر هغه هنر پرمختګ کولای شي چي په حکومتي کچه باندي ورته کار وشي.

نو تر ټولو لمخه به دا خبره روښانه کړم چي د موسيقۍ توری ځنګه تعريف شوی دئ؟ دبېلا بېلو ژبو قاموسونو يې بېلابېل تعريفونه کړي دي، له دې قاموسونوځخه د يو ځو قاموسونو تعريفونه رااخلم ، چي د موسيقۍ توری يې تعريف کړی دی .

ستېنډرډ انسيکلوپېډيک کالج ډکشنري يې داسي تعريفوي:

"**Music** (n) the art of producing significant arrangement of sounds, usually with reference To rhythm, pitch, and tone color."(1)

**ژباړه**: "په منظم ډول د موهمو ږغونو (آوازونو) پيدا کولو هنر (فن) او په عامه توګه د دې نسبت وه آهنګ،وزن،سر،او تال ته کيږي".

" موسيقي، ښځ .م. موزيک ،د راګ علم".(2)

د زاهد پښتو- پښتو سيند غوندي درياب قاموس هم موسيقي د راګ علم بولي.

"موسيقي ( مو-سی-قی) اسم- واحد- مونث- د راګ علم ،د سرورعلم."(3)

موسيقي له راګونو څخه پرته هيڅ معنا نه لري، زه دا وايم چي موسيقي له راګونو څخه جوړه شوې ده. چي کله اووه سُرونو په يو خاص ترتيب کښې و رغول شي نو راګ ورڅخه جوړشي.که له موسيقۍ څخه راګ وباسې نو بيا موسيقي نه پاتيږي هغه په دې چي د موسيقۍ په هنر کښې راګ خپل ځانګړی رول لري ،د راګ په حقله د ځينو ليکوالانو د ويناوو څخه به ښه څرګنده شي چي راګ څه دئ؟

" **Raga:** (n) In Indian classical music each of the six basic musical modes which express different moods in certain characteristic progressions, with more emphasis placed on some notes than others."(4)

**ژباړه** :"د انډين کلاسيکل موسيقي په شپږو حالتونو کښې هر يو ځان له په ځانګړې خاصيت کښې بېل حالت څرګندوي او په دې کښې زيات زور پر ځيني آهنګونو باندي اچوي ."

پښتو آريانا دائرة المعارف يې هم داسي تعريفوي:

"موسيقي **Musique** د لاطيني موزيکا Musica څخه اخيستل شوی چي له موزا Musa يا موز Muse څخه اخيستل شوی دی موسيقي يو فن دی چي د آهنګونو د امتزاج او د ذوقونو زړه ښکلوي."(5)

د پښتو آريانا دائرة المعارف په شان ډېر وداسي نورو قاموسونو هم د موسيقۍ توری د لاطيني ژبي له موزيکا څخه يې اخيستل شوی بولي. د دې قاموسونو د تعريفونو په رڼا کښې به و موږ ته دا خبره لږ روښانه شي چي د موسيقۍ توری له موزيکا څخه اخيستل شوی دی. دا چي موزا يا موز څه ته وايي د دې خبري د سپيناوي لپاره د يوڅو ليکوالانو ويناوې دلته راوړم چي دا خبره ښه سمه روښانه شي چي موزا يا موز څه ته وايي؟ لطيف جان بابی په خپل کتاب (سندارا او سندري) کښې د دې توري څه دارنګه تعريف کړی دی:

" ځيني پوهان يې رېښه د مز او مس څخه بولي ، د يونان هونري تربښتن (رب النوع) ميوز(Muss) نومېدی چي رېښه يې د مز ، مس او موز څخه ده چي د ستاينې او نمنځنې مانا لري"(6)

له دې حوالې څخه داسي معلوميږي چي هم د موسيقۍ په ژبه به دوی خپل د لوی ښتن ستاينه کوله. لکه په دې وختونو کښې په ځينو مذاهبو کښې د موسيقۍ په وسيله خپل عبادت کوي او د خپل رب ستاينه کوي.

استاد عبدالرحمن رحماني دغه توری په خپل کتاب سندارا د موسيقۍ ډولونه او پېوندونه کښې داسي راوړی دی :

" ډېر قاموسونه ليکي دا د يوناني کليمې له ‹موزيکا› څخه اخيستل شوی دی او د يونان ‹موس› ته منسوبه ده او هغه وخت يې عربي ته يې لاړه وموندله چې يوناني اشعار عربي ته واړول شول."(7)

استاد رحماني صاحب دا خبره کوي چې ډېر قاموسونه دا توری له يوناني ‹موزيکا› څخه اخستل شوی ګڼي. او بيا د وخت په تېرېدو سره به دا په موسيقي باندي اړول شوی وي چې ‹ز› به په‹ س› او ‹ک› به په غټ ‹ق› او ‹الف› به په وړه ‹ی› باندي اړول شوی وي چې وروسته به دغه توری‹لفظ› په ټولو سيمو کښې به دود شوی وي.

او دا وخت په ډېرو ژبو کښې ورته ميوزک، موسيقي، ټنګ ټکور، ساز، سنګيت او داسي نور توري کارول کيږي.

تر دې ځايه د موسيقۍ کليمه يو څه روښانه شوه چې دا د کومې ژبې توری دئ او نورو ژبو بيا څنګه اړولی دئ او د خپلي ژبي توری يې ورته جوړ کړی دی.

سهېلي پښتونخوا هم يوه له هغو سيمو څخه ده چې د کلتور، ادب او هنر په برخه کښې ځانګړې ځای لري که موږ وګورو نو د پښتو اولسي ادب ډېر شعري صنفونه هم دلته په لومړي ځل هم په دې سيمه کښې جوړشوي دي لکه ، کاکړۍ غاړي، انګۍ، بلندۍ، او داسي نور نو د هنر په برخه کښې هم ډېر څه لري . د موسيقۍ په برخه کښې هم د سهېلي پښتونخوا هنرمندانو هم دې هنر ته وخت په وخت ډېر کار کړی دی. او ډېر داسي سندرغاړي يې پيدا کړي دي چې هم د دوی له برکته دلته د موسيقۍ هنر ژوندی پاته شوی دی. او د پرمختګ لپاره يې نه ستړېکېدونکې هلې ځلې کړي دي.

په سهېلي پښتونخوا کښې ځيني داسي کورنۍ شتون لري چې د پښتو موسيقۍ هنر ته يې ډېر خدمت کړی دی دوی هر څه ته غاړه ايښې ده او خپلي پښتوموسيقۍ ته يې کار کړی دی. په يويشتمه پېړۍ کښې لاهم خلګ له دوی څخه کرکه او نفرت کوي او دوی ته د ډم په نامه ويل کيږي دوی ته نه ښوک لور او خور ورکوي او نه يې له دوی څخه غواړي خو بيا هم دا خلګ دي چې دې هنر ته په ورين تندي کار او خدمت کوي چې دا دی نن يې موسيقي تر هم دې ځايه را رسولې ده.

**د سهېلي پښتونخواهنرمندان فوک او جديد** :

په سهېلي پښتونخوا کښې يو شمېر د هنرمندانو وړې او غټې کورنۍ شتون لري چې د پلار او نيکه څخه دموسيقۍ هنر ورته په ميراث کښې پاته شوی دی. نو دا کړۍ ورو ورو همدغسې روانه ده. کله چې هغوی سپين ږيري شي نو بيا دا هنر د هغوی زامن او لمسي ورته کار کوي. هم له دې لاري پښتوموسيقۍ ته کار کوي. دلته دا وخت تر ټوله لوېه کورنۍ د استاد چاني کورنۍ ده د دې کورنۍ زيات شمېر ځوانان هنرمندان دي ځيني يې سندرغاړي دي او ځيني يې د موسيقۍ آلې لکه ، ارمونيم، طبله ، رباب ، او ډولک ږغوي د د ودونو محفلونو ته ځي هم له دې لاري پېسې ګټي او د

پښتو موسیقۍ ته کار کوي او د پرمختګ لپاره یې نه ستړیکېدونکې هلې ځلې کوي په لومړي سر کښې به د استادسلطان محمد چاني په حقله څه و وایم.

۱۹۷۰ ء **د لسیزي هنرمندان** :

**سطان محمد چاني**:

استاد چاني د سهېلي پښتونخوا د رباب په هنرمندانو کښې ځانګړی نوم او شهرت لري. چي د خپل وخت یو ډېر ښه هنرمند او رباب رږغوونکی دی. چي یو شمېر ځوانان یې روزلي دي او بېلابېلو هېوادنو ته یې د رباب د یو هنرمند په توګه تللی دی. او یو شمېر ایوارډونه یې د یو ښه او تکړه رباب رږغوونکي په صفت هم اخستي دي. ډاکټر لیاقت تابان صاحب له استادسلطان محمد چاني سره یوه مرکه د چاني استا په کور کلي خروټ آباد کښې په ۳۰ م سپتمبر ۲۰۱۴ کړې ده. له هم دې مرکې څخه ځیني معلومات د استاد چاني په حقله راوړم.

"سلطان محمد چاني زما د پوښتنو په ځواب کښې راته وویل:

زموږ کور په حبیب زی ګلستان کښې وو او زه د لویي زلزلې په کال ۱۹۳۵ کښې زوکړی یم . زما پلار محمد علي ربابي نومېدی . رباب یې واېه او کله کله به یې باجه هم وېله سندري یې هم ویلې . موږ د پلار نیکه له وخته څخه د افغانستانه راغلي یو. د افغانستان په سره کلا کښې زموږ اوس هم جائیداد سته . له حبیب زی څخه موږ توري شاه پښین ته راکډه شو. زما له موسیقۍ سره شوق دپلار له وجهي پیدا سو . زه به د پلار سره محفلوله تلم . دوی به مو اورېدل . کرار کرار ما هم رباب زده کول پیل کړی زما درباب استاد امام الدین صلاحي دی.کوم چي د کوټي ریډیو نوموړی ربابي ؤ."(8)

اوس دې خبري ته راځم چي د رباب له زدکړي څخه وروسته د ځینو هېوادونو ته هم تللی دی چي هلته یې رباب رږغولی دی. د دې خبري دڅرګندولو لپاره هم هغه د تابان صاحب د مرکې څخه یې معلومات رااخلم.

"د ایوب خان په وخت کښې موږ له پاکستان څخه ۱۳۵ هنرمندان فرانس ته ولاړو. شل شپې مو وکړې ، زرڅانګه او زما ورور شاه ولي راسره وو. له دې پرته اټلي، ناروې، روم ، لندن ، جاپان، چین، دوبۍ،انډیا ، او د امریکې دورې مي کړي دي او هر ځای درنې او ښې خاطرې لرم."(9)

د یو هنرمند په توګه د نړۍ د ډېرو هېوادنو سفرونه کړي دي او له ځان سره یې ښې او په زړه پوري خاطرې هم راوړي دي نه یواځې دا بلکې د رباب په رږغولو سره یې د هغه ځای وګړي هم له پښتو موسیقۍ سره بلد کړي دي.

**شوکت علي استاد**:

هم یو ښه رباب ږغوونکی سره سره یو خوږ ژبي سندرغاړی هم دی ډېري سندري یې د رېډیو د لاري نشرشوې دي . اوس هم رباب ږغوي او یو شمېر ځوانان یې روزلي دي. خودا وخت یوائې رباب ږغوي او سندري نه وایي. لیاقت تابان صاحب د شوکت علي استاد سره مرکه کړې ده د هغې مرکې څخه ځیني معلومات راوړم.

"د زوکړي نیټه مي په یاد نه ده خو داوخت د ۶۰ او ۶۵ په میان کښې یم (۵۰-۱۹۵۵)په حبیب زی، ګلستان کښې زوکړی یم . پلار ته چي مي و کتل نو زما هم د رباب سره مینه پیدا شوه. د رباب استادمي امام الدین صلاحي ؤ. د خپل ورور سلطان محمد چاني او کابل رېډیو څخه مي هم زدکړې کولې. په محفلوکښې مي سندري وېلې بیا مي په رېډیو کښې د ورور په مرسته آډیشن ورکړی او په کښې کامیاب شوم . داغالباً د کال ۱۹۷۷ خبره ده لومړی سندره مي په رېډیو کښې دا ریکارډ کړه:

نې کومه څه یې کوم واده کابو کالر غواړي شل زره ولور غواړي

هغه وخت په کوټه او پښین کښې ولور دوه درې زره روپۍ رواج ؤ.

دا سندره دمره مشهوره شوه چي د لوی او کوشني په خوله وه."(10)

د سهېلي پښتونخوا د هنرمندانو شمېر بېخي ډېر دی نو یوائې د دوی د نومونه راوړلو باندي به لوستونکي ما وبخښي ولي چي دا په یوه مقاله کښې د ټولو هنرمندانو په باب معلومات نه شي راوړل کېدلای.

۱۹۸۰ ء **د لسیزي هنرمندان**:

ملاشېر، ملاسعد ملوک،خېرمحمد (خېرواستاد)، نېکوآغا، ولي جان، آغا محمد ، سمند خان، عبدالرحمن، اروابناد امان الله، نیازمحمد، سلیم جاوېد، عبدالمناف، عبدالحکیم، لال خان، نورمحمد، ارباب سیف الله، سیف الدین تاجک، مولاداد، ګل محمد برېځی، شوکت، ماسټر باقي، مرزاخان، ملغلره، عبدالله جان غزنوي، اظهاراحمد، باقي خیال، سیف الله کاسی او داسي نور.

۲۰۱۰ ء **د لسیزي هنرمندان**:

ابراهیم جان، محمد زمان، انجنئېر حفیظ الله کاکړ، عبدالخالق دروېش ( دروېش کاکړ)، محمد عاصم ګلستاني، او داسي نور.

۲۰۱۷ ء **د لسیزي هنرمندان**:

عبدالباقي قره باغی، اسماعیل قره باغی، ډاکټر امني، محمد شفیع ایثار، صالح محمدکندهاری، نصیب الله هڅاند، فیض الله روښان، مطیع الله خپلواک، روزي خان شوق، اعجازخان اُفق، فیروزنګار، رحمت واقف، امین شباب، رحمت سرشار، طاهر فېروز، شمشېرمېوند ،عابد زیارمل، نسیم خان وفادار، فریادي کاکړ، خانداد، عبدالرحمن لالا،وزیرپردېس، عبدالرشید، او داسي نور.

**د سهېلي پښتونخوا د پښتو موسيقۍ په وده او پرمختګ کښې د ريډيو کوټې کردار:**

په کال ۱۹۵۶ ء کښې د کوټې ريډيو سټېشن جوړشو. او خپلې خپروني يې پېل کړې. نو د پښتوموسيقۍ ته لاره نه وه هواره او د پښتو او د پښتو موسيقۍ په مخ کښې خنډونه زيات پراته وو. د دې خبرې پخلى ډاکټر لياقت تابان صاحب هم په خپل کتاب کښې کړى دى.

"په کوټه کښې پر ۱۷ م اکتوبر ۱۹۵۶ ء کښې ريډيو خپرونې پېل کړې لاکن دلته د پښتو خپروني لپاره ډېر خنډونه واچول سوه لاکن د دې ځاى د باهمته پښتنو په هڅو آخر پاى په کال ۱۹۵۸ ء هم د پښتو خپروني پېل شوې. دا بوه داسې شببه وه چې د نورو ګټو سره سره د پښتو موسيقۍ لپاره د باران لومړى ځاڅکى و ګرځېدى."(11)

کله چې ريډيوخپلې خپروني پيل کړې نو د سهېلي پښتونخوا اولسي سندرغاړې اولسي سندرې يې په ريډيو کښې ريکارډ کړې او بيا د ريډيو د لارې يې ترپښتنود لويو او وړو تر خوړونو پورې ورسولې او د سهېلي پښتونخوا پښتو اولسي موسيقۍ د ريډيو په وسيله ډېره وده او پرمخ تګ وکړى . ورو ورو يې داسې سندرغاړې پيدا شول چې نن دوى زموږ په منځ کښې نسته خو سندرې يې اوس هم د ريډيو د لارې نشرکيږي. تابان صاحب په خپل کتاب (د سهېلي پښتونخوا پښتو رسنۍ)کښې په دې حقله داسې ليکي:

"د پښتو موسيقۍ په لړ کښې د کوټې د ريډيو کار د نورو برخو په پرتله تر ټولو ښه دى.دا ته به د کوټې ريډيو نېکمرغي ووايوچې دلته د نثارمحمد خان ، عزت الله نيازى، آغامحمد کاسي، او سهېل جعفر غوندې په موسيقي مين او پوهه پروډيوسرزموجود وو.که د پښتو فولکورې او شاعرې هغه ارزښتناکه پانګه چې د سهېلي پښتونخوا قيمتي سوغات ګڼل کيږي د پښتو موسيقي په زياتولو او نوښت ورکولو کښې يې غټ رول ولوبولى."(12)

د ريډيو کوټې د پرنستلو څخه يې پښتو موسيقۍ ته په لږ وخت کښې دومره ګټه ورسوله چې کور کور ته د پښتو اولسي موسيقي ورسېده او داسې ډېرلږ کورنه به وو چې ريډيو به يې نه درلوده. په سمه او په غر د پښتو موسيقۍ انګازې خورې شوې. څه موده چې تېره شوه نو خلګ د سندرغاړو له ږغونو سره دومره بلد شو چې کله به سندره پېل شوه نو دوى به يو بل ته و ويل چې دا ږغ خو د پلانکي سندرغاړې دى. او د ډېرو به د هغه سندرغاړې سندره ټوله په ياد زدکړې وه او ورو ورو به يې ورسره زمزمه کوله. زه دا وايم که چيرې ريډيو پښتو موسيقۍ ته ځاى نه واى ورکړى نو نن ورځ به پښتو موسيقۍ دومره وده او پرمختګ نه واى کړى.

# حوالې

1:Funk & Wagnalls, standard Encyclopedic College Dictionary, printed in the United State of America second printing, 1968, page 892.

(2) زاهد پښتو- پښتو سیند ، دانش خپرندویه ټولنه، چاپ کال ۲۰۰۶ ، مخ ۹۹۰ .

(3) دریاب پښتو لغت ، مولفین قلندرمومند ،فریدصحرائي، این ،ډبلیو ،ایف ،پي ټیکسټ بک بورډ پېښور، چاپ کال ۱۹۹۴ ،اول اېډیشن، مخ ۱۲۱۷.

4: http//en.oxporddictionaries.com/definition/raga, acces date, 14-06-2016

(5) پښتو آریانا دائرة المعارف ، د اطلاعاتو او کلتور وزارت دائرة المعارف ټولنه، چاپ کال ۱۹۷۶ اګست ، اووم ټوک، مخ ۶۰۴۷.

(6) بابی، لطیف جان ، سندارا او سندري ، دانش کتابتون قصه خوانۍ بازار پېښور،چاپ کال۲۰۰۲ عیسوي، مخ ۱۵.

(7) رحماني ،عبدالرحمن، سندارا (موسیقي) ډولونه اوپیوندونه، چاپ ځای کندهار افغانستان، چاپ کال ۲۰۱۵ ، مخ ۹.

(8) تابان، ډاکټر لیاقت .پښتو موسیقي ترسهېلي پښتونخوا پوري.عامر پرنټ اېنډ پبلشرز پېښور، چاپ کال ۲۰۱۵ عیسوي،مخ۳۳۴ .

(9) همدغه اثر،مخ۳۳۴ .

(10) همدغه اثر، مخ۳۷۸ .

(11) همدغه اثر، مخ ۴۶.

(12) تابان ،ډاکټرلیاقت، دسهېلي پښتونخواپښتو رسنۍ،خپرونکی ملګري لیکوال کوټه، چاپ کال ۲۰۰۸ ء، مخ ۷۱ .